عبدارحمن فرقا ني نيټه 14/11/2009

# کرزي به له دويم فرصت څخه څرنګه ګټه پورته کړي ؟
## کرزي د شاشجاع او امير عبدالرحمن خان په هنداره کی !

په افغانستان کی هر ولسمشر له يوه شي څخه ډاريږي اوهمداراز د يوه خاتمی هيله من وي او ولسمشر کرزي هم لدی قاعدی څخه مستثنی ندي .

کرزي ډاريږي چی د شا شجاع په څيرخاتمی سره لاس ګريوان نشي ......او هيله من دي چی د امير عبدالرحمن خان په څيرد افغانانو په ذهن کی ځاي پيدا کړي , سره لدي چی دوي په دو ځانګړيو زمانو پوري تړلي دي خو د دوي تر منځ د ورتوالي نښي شته دي , دواړه له وطن څخه لري شوي دي , او داخلي جګړه وورباندي تيره شوي ده , اوکورنۍ خونړي کشمکش يی تير کړي  چی په پايله کی يی دافغانستان په سياسي غره کی هغی  لوړي څوکی ته چی ديره خطرناکه ده رسيدلي  .

د انګليسي - افغاني لومړي او دوهمي جګړي څخه وروسته د دواړو رسيدل د حکم تخت ته د انګريزانو د کمك په پايله کی شوني شول ,  د خپل حکومت په دوران کی د دواړو معاشونه د انګلستان د حکومت له لوري ورکول کيدل دواړو هر مياشت 15 زره دالره تر لاسه کول .

دواړو په هغو جګړو کی ونډه اخيستي ده چی نن ورځ په نړۍ کی دي نسل د لمنځه وړلو د جګړو په کتار کي راځي , شا شجاع د اوزبکوو په وړاندي جګړه په لاره اچولي وه , اوامير عبدالرحمن خان د زاريګانو په ضد جنګيده , او دواړو د افغانستان خاوره انګليسانو ته وسپارله , د شا شجاع ډالي انګريزانو ته پيښور و , او امير عبدالرحمن خان د ديورند کرغيړنه کرښه د انګريزانو سره ومنله چی په پايله کی يی نيم پښتانه د انګريزانو د حکومت تر سيوره لاندي شول ...........,خو په هر توګه د دواړو خاتمه يو له بل څخه بيله وه , چيرته چی شا شجاع دوه ځله حکومت ته په کال 1803تر1809او په کال 1838تر کال 1842بوري رسيدلي او افغنستان يی انګريزانو ته سپارلي نو د افغانانوپه تاريخ کی د لوي خاين په څير پيژندل شوي دي , خو له بل لوري امير عبدالرحمن خان چی په کال 1866تر 1901پوري حکومت کړي د افغانستان په ولسي تاريخ کی هغه ولسمشر ګڼل شوي چی ګواکی د انګريزانو يرغل ته يی د پاي ټکی کيښود , او د افغانستان خپلواکي يی ترلاسه کړي ده .

شا شجاع د خپل ولس د خلکو په لاس ووژل شو , اود وژنه ورځ يی افغانانو تر اوو ورځو پوری يادوله  , خو امير عبدالرحمن خان يوله هغو افغان ولسمشرانو څخه دي چی په کراري په خپل کوراو خپل کټ کی وفات شو او د مړيني ورځ يی په درنښت ولمناځل شوه او د ملت بابا وګڼل شو .

نو پکار ده چی د دواړو مختلفه خاتمه وڅيړل شي حال دا چی دواړه له هغی کشالی سره لاس ګريوان وو چی افغانانو ته ديره حساسه کشاله ده هغه د بهرنيو ځواکونو شتون په افغانستان کی .

شا شجاع چی د بهرني ا جيرځواك په مرسته  چی مشري انګريزانو کوله حکومت ته ورسيد او د انګريزانو د پاتي کيدو کوښښ يی کاوه لدي امله د خلکو تر پام بد وه اوپه بده سترګه يی ورته کتل , خو امير عبدالرحمن خان چی هم انګريزان پادشاه کړي وه وتوانيده چی انګريزان وباسي لدي امله په ټولو افغانانو ګران و, او تر اوسه په افغاني تاريخ کی محبوب شخصيت دي .

اوس به په چټکتيا سره اوسني وخت او کرزي ته راشو  , ټول پوهيږو چی د کرزي وجود په ولسمشرۍ کی د امريکايانو په برکت شوني شوي دي , په کال 2001 کی کرزي په امريکا کی و او خپل شخصي کار يی په واشنګټن کی په  مخ وړو , او زيار يی کاوه چی د طالبانو له لوري د افغانستان سفير په امريکا کی وټاکل شي , وروسته له يوه کاله کله چی د امريکا لومړۍ مهره د طالبانوپه لاس له منځه ولاړه ( عبدالحق )  نو کرزي د افغانستان ولسمشر وټاکل شو .

د کرزي رسيدل حکم ته د شا شجاع او امير عبدالرحمن خان حکومت رسيدلو ته ورته صورتحال دي او په تيره شويی دريو پيړيو کی هم د افغانستان ديري ولسمشران دا راز حکومت ته رسيدلي دي , خو سره لدي کرزي ته پيغور متوجه نشولدي امله چی حکومت ته يی د رسيدو تګلاره څه نا څه بدله وه  , او په تيرو اتو کالونو کی کرزي په افغاني ټولنه کی د يوه زيرك سياسي , او با تدبيره مشر , او يو ښه دپلمات په څير پيژندل شوي دي , او کرزي وکولي شول چی د حکومت چاري په يوځانګړي لاره رواني کړي , او دوه مختلف سياسي قوتونه يی د افغانستان په بيا رغونه کی سره شريك کړل ( امريکا او ايران )  .

خو هغه څه چی هيڅوك پکی شك نشي کولي هغه دا دي چی د کرزي په حکومت کی بي ساره اداري فساد خور شوي وه , او دا د هغه کومکونو پايله ده چی په ناوړه توګه افغانستان ته ورکول کيږي لدي پرته په افغانستان کی


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

فساد د وروسته پاتي هيوادونو په کچه لوړ ندي په تيره د ايران اوپاکستان په پرتله , د دي فساد لامل هغه لوديځ انجو ګانو او موسساتو دي چی اکثر کارمندان يی غربيان او په لوړه کچه معاشونه تر لاسه کوي او د افغانستان بيا رغونه په خپل ځاي پاتي ده .

نو کيدي شي چی د کرزي خاتمه يا د شا شجاع په څير وي او يا هم د امير عبدالرحمن خان په څير, که غواړي چی د شا شجاع په څير خاتمه ولري نو بايد هيڅه ونکړي او دا هم ښکاره ده چی امريکايان او د هغوي د ناتو ملګري د 2002 کال په څير کرزي ته وفادار ندي , او د اوباما د اداری په وړاندي کرزي د جورج بوش د اداری د وخت څخه په حکومت کی پاتي شوي ګڼل کيږي , او بايد بدل شي نو لدي ځاي اوباما هم د جون کندي په څير چی د ويتنام سياسي دوسيه ورته پاتي شوه د هغه انقلاب پلوي شو چی د امريکا د پخواني ملګري (نجو دينه ديام ) په جنوبي ويتنام کی په ضد په لاره واچول شو .

دځو مياشتو له پلټنی وروسته امريکايانو ځوك پيدا نکړل چی د کرزي په ځاي يی ګمارلي وي , سره لدي چی دوي بعضي څيری تر پام لاندي نيولي وي چی د قندهار پخواني والي ګل آغا شيرزي او کانديد عبدالله عبدالله يادولي شو خو بريالي نشول .

## اميرعبدالرحمن خان به څه کړي وي که د کرزي په ځاي وي ؟

لومړي به يی لويه جرګه راغوښتي وي , تر څو يی د لويی جرګی څخه د باور رايه تر لاسه کړي وي او د قومي يوالي پخلي به يی کړي وي , او يو داسي حکومت به يی ټاکلي وي چی غړيو يی ولسي پشتوانه درلودي , او د مخکني ځل په ډول به يی د تکنوقراطوشخصيتونو څخه چی د دو دولتونو تابيعيت لري او هيڅ راز ولسي زيرمه د افغانستان په داخل کی نلري د حکومت په جوړولو کی ډډه کړي وي , همدارنګه به يی د هغه فساد عاملين په ډاګه کړي وه چی اکثريت يی د غربي موسسو مسولين او بهرنيان دي او دا لوبه يی په لاره اچولي ده , اود دوي سره شريك او لاس پوځي افغانان , لدي څخه سربيره به يی له لوي جرګي غوښتي وي چی د بهرنيو ځواکونو د وتلو مهال ويش وټاکي .

توقع کيدي شي چی په کال 2013م د افغانستان د جوړيدو په حال کی اردو يو پياوړي ځواك وګرځي , سره لدي په کال 2014م کی بهرنيی ځواکونه له افغانستان څخه کيدي شي ووځي , پکار ده چی کرزي د څلوروکالونو لپاره پلان جوړکړي چی په دو مهمو هدفونو ولاړ وي : د افغاني دولت بيا جوړول , او د بهرنيو ځواکونو وتل چی کيدي شي د عراق په څير کوم تړون وځيړل شي .

پکار ده چی کرزي خپله جګړيزه تګلاره او استراتيژي بدله کړي تر څو وکولي شي چی د طالبانو ديري ډلي تر خپل سياسي چتر لاندي راولي او د طالبان هغه مشران يوازي پاتي شي چی د مخدراتو قاچاق تر سره کوي .

تاريخ کرزي ته يو بل چانس ورکړ, څرنګه يی چی شا شجاع او امير عبدالرحمن خان ته له دي وړاندي ورکړي و, خو کرزي بايد څه وکړي تر څو لدي فرصته څخه سمه ګټه پورته کړي ؟ دا په ده پوري اړه لري .

له الشرق الاوسط ورځ پاڼي څخه ژباړه شوي مطلب


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ